د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه ۰۷ صفر، ۱۴۴۴هـ | ۲۰۲۲/۰۹/۰۳م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۴/۰۳

مطبوعاتي اعلاميه

## د مولوي صاحب انصاري شهادت د مرموزو استخباراتي وژنو دوام دی!

د هرات د گزرگاه جومات د چاودنې په پايله کې د دغه جومات خطيب مولوي صاحب انصاري د ۱۷ تنو په گډون په شهادت ورسېد او لسگونه تنه نور پکې ټپيان شول. د حزب التحرير ـ ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر دا وحشيانه بريد او ترور د ټولو انساني او شرعي موازينو خلاف بولي او په سختو ټکو يې غندي. الله تعالی دې د شهيدانو شهادت قبول کړي، ټپيانو ته دې عاجله شفا او د هغوی خپلوانو ته دې جميل صبر او لوی اجر ورپه برخه کړي.

دا لومړی ځل نه دی چې موږ د دغه امت د علماوو، متنفذينو او مخورو د ترور شاهدان يو، په ځانگړي ډول په وروستيو شلو کلونو کې چې افغانستان د اشغال او استعمار تر ولکې لاندې و، د علماوو او متنفذينو ځنځيري او هدفي وژنو په شدت سره دوام درلود، اشغالگرو او د هغوی استخباراتي کړيو په دې خاوره کې ډېرې مرموزې وژنې وکړې، ترڅو هغه کسان چې په خلکو کې هويت او محبوبيت لري او هغه کسان چې د اشغالگرو د پلانونو او دسيسو پر وړاندې خنډ کېږي، په يو ډول نه يو ډول منزوي کړي، شخصيت يې ترور او يا يې په شهادت ورسوي، چې د مولوي صاحب انصاري شهادت د همدغو استخباراتي فعاليتونو دوام دی.

اشغال په افغانستان کې ماتې وخوړه، خو اشغالگران ارام نه دي ناست. د اسلام دښمنان له مختلفو اساليبو څخه په استفادې غواړي چې د اسلامي ارزښتونو، حاکم نظام، او د دې خاورې د علماوو او متنفذينو پر وړاندې بې درېغه بريدونه وکړي، ترڅو له يوه اړخه پر اسلامي امارت فشار راوړي او له ننگونو سره يې مخ کړي او له بله اړخه هغه کسان له منځه يوسي چې دوی يې د خپلو موخو په لار کې خنډ بولي. بناءً اسلامي امارت بايد درک کړي، چې غربي استعمار او سيمه‌ييز همکاران يې مختلفې څېرې لري؛ دښمن کله د پيسو د مرستو په بڼه راڅرگندېږي، کله د خيريه بنسټونو په بڼه، کله د مدني فعاليتونو، لاريونونو او مطبوعاتي فشارونو په بڼه، کله د سياسي فشارونو او کله هم د مرموزو استخباراتي فعاليتونو او هدفي ترورونو په بڼه.

موږ پخوا هم په وار وار د دښمن دا ډول دسيسې افشا کړې او د ټولنې مشران مو ترې خبر کړي دي. نن هم دا حقيقت تکراروو چې غرب څو اړخه او پېچلې سياست کوي؛ په ښکاره د بشري مرستو او بشري حقونو خبرې کوي، خو په عمل کې په افغانستان او سيمه کې د يو باثباته او ځواکمن دولت د رامنځه کېدو مخه نيسي. بايد پوه شو چې يوازې له امت سره نږديوالی او د شريعت بشپړ تطبيق کولی شي د داخلي فتنو مخه ونيسي، بهرنۍ دسيسې خنثا کړي، مجرمين مجازات کړي او د مسلمانانو ځاني او مالي امنيت خوندي کړي. د يو قوي اسلامي هويت رامنځته کول او د يوې باثباته ټولنې احياء موږ ته دا وړتيا راکوي چې د خپل بهرني دښمن په مقابل کې د اوسپنيز دېوال په څېر ودرېږو او د هغوی د هر ډول کيد او مکر پر وړاندې بريالي شو.

**د حزب‌التحرير ـ ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**